مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: کلنل سرهنري ميکماهن
ژباړه، څیرنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشید

۲۰۲۲/۱۱/۱۷

# ورځـلیـک

## (روزنامچه)

## (د ۱۹۰۶ کال د دسامبر له ۳۱ څخه د ۱۹۰۷ کال د مارچ تر ۷ پورې)

### خوارلسمه برخه

(CONFIDENTIAL)

DIARY OF COLONEL SIR HENRY McMAHON, K.C.I.E , C.S.I , CHIEF OFFICER ON SPECIAL DUTY WITH THE AMIR OF AFGHANISTAN.FOR THE PERIOD FROM 31st DECEMBER 1906 TO 7TH MARCH 1907

**(محرم)**

**(د هند ملي آرشيف – بهرنی څانګه)**

د افغانستان د تولواکمن لپاره د ځانګړې دلې او ځانګړي پلاوي مشر

کلنل سرهنري ميک ماهن

ليکوال: کلنل سرهنري ميکماهن

ژباړه، څیرنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشید

۱۳۹۲



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

## یک شنبه د ۱۹۰۷ کال دفبروری (۳)

موږ غوښتل چې ټوله ورځ له عالیجناب لارد منټواو میرمن منټوسره په برکپورکې تیره کړو،امیرهم ددغه ټکي لپاره ډیرلیوال اوهیله من و. ځکه یي نو خپله اوږده ورځ دسهار په اتو بجوباندې پیل کړه.خو هغوی عالیجنابان ددې لپاره تیار نه وو چې دی باید دومره وختي ومني اوهرکلي یي وکړي.ما هغه دي ته وهڅاوه چې یوڅه آرام وکړي او ترلسوبجو پورې انتظاروباسي. خوزموږ وینې ته په پیاوړي عکس العمل سره یی موږداسې مهال برکپورته ورسولوچې له یوې بجې هم څه شیبې تیرې وې.

غرمنی په بڼ کې ترونو لاندې وخوړل شوه،چیرې چې امیرترهرڅه زیاته له دغه کارسره لیوالتیا درلوده اوډیرپرې خوشاله و. له غرمنۍ وروسته امیرمیرمن منټوله ځان سره روانه کړه هلته چې دده نوکرانو بیلابیل سوغاتونه ترونولاندې غوړولي ول.دغه هغه سوغاتونه او ډالۍ وې چې امیریوازې د میرمن منټو اودهغې د دریو لورانو لپاره راوړې وې او امیرهمدغه ډالۍ دوی ته دخوشالیوپه مراسموکې ورکړې. په هغو کې دسرو زرو ښایسته ګاڼې وې چې هرې یوې ته ورکړې شوې،شالونه چې هریوې ته ور واغوستل شول او ټولې هغه ټوټې چې ده ډالۍ کړې او د دوی لپاره یې راوړې وې هغه یې ټوټه پرټوټه دوی ته ورپورې کړې.دغه ټول څه د خورا خوږواوښایسته خبرو په ترڅ کې چې یوڅه وخت یې ونیو ترسره شول. او ما ته دا په ډاګه شوه چې دابه ډیره ګرانه وي چې زه به پردې بریالی شم چې امیردې ترتیارې مخکې د استوګنځي پرلورروان کړای شم. ځکه مې دا دعقل خبره وبلله چې باید دیوه داسې موټرچې دهغه په چلولو باندې بندیزنه وي په لټه کې شوم. عالیجناب ویسرای په خورا مهربانۍ سره خپل موټرزموږ په واک کې راکړ، او زه له دې امله چې دا ریزرف خو له ځان سره لرو خوشاله شوم ځکه مې یوڅوشیبې وروسته وویل چې موږ په ژمنه شوي موټرکې حرکت کوو،خوهغه زما داخبره وا نه وریده ،دهغه زړه نه وچې زرباید داستوګنځي پرلور روان شي. ځکه یې وویل چې ولې زموږ موټر؟

له یوڅو عکسونواخیستو وروسته امیرخپله لومړۍ لوبه کروکویت اونورپیل کړه، میرمن منټو له ده هیله وکړه چې په بڼ کې چکرووهي هغې په خورا لورینې اومهربانۍ له هغه هیله وکړه چې له هغې سره دهغې په اسی بګۍ کې چې دابه یې چلوي، سپورشي،خو د امیرټینګار په دې و چې دا ورسره کیني او دی به ګاډۍ چلوي ، او دوی دواړه ولاړل. دی د بڼ اوباغ په لیدو باندې ډیرخوشاله شوی و، اوویی ویل چې ده داسې ځایونه او باغونه یوازې په هغو عکسونو کې لیدلي چې هغه په انګلستان کې اخیستل شوي دي.

نژدې (۶:۳۰ ) بجې وې، چې چای هم ترونولاندې وڅښل شو. ما امیردکورپرلور را روان کړ،هغه له لارد او میرمن منټوڅخه د زړه له کومې منندوی و چې ننۍ ورځ یې په خوشالۍ سره تیره شوه،زه فکرکوم چې دی نن دومره خوشاله وچې دایی دهندوستان دسفرپه ترڅ کې لومړنۍ او ترټولو خوشاله ورځ وه . موږ له هستنګ هاوس څخه څه باندې شل میله لرې تللي وو،له هغه ځایه موږ د میرمن منټو په نوي موټرکې راسپاره شوو، ټوله لاره امیردستاینې ډکې خبرې کولې او له شکه پرته یې دننۍ خوشاله ورځې یادونه د زړه له کومې وه.

استوګنځي ته له رارسیدو سره سم ،ما له ډیلي څخه یوټلګرام ترلاسه کړ چې هغه دامیردیوه نوکر فتح محمد خان دمرګ په اړه و( امیرکله هم موږ ته په دغه اړه څه ونه ویل ) هغه چې ده خپله په ډیلي کې په ګولۍ ویشتلی و. موږ داخبره ځانته معلوموله چې چوپ چاپ ددغه سړی په باره کې چې په کوم پړاوکې دی په یوه څه باندې پوه شو، په دې چې دډیلی حکومت غوښتل چې که امیرهیله من وي نودهغه لپاره به د ښخولوځانګړي مراسم ونیسي، ما په دغه اړه یو پیغام امیرته ولیږه اوپه هغه کې مې دا خبره وکړه چې ستاسې یو نوکرچې فتح محمد نومیږي هغه مړشوی دي ، کیدای شي دهغه لپاره ځانګړي مراسم ونیسو ،ما په دغه اړه داځواب ترلاسه کړ،چې هغه دده نوکرو او پرته له کوم لامله هغه تس نس شوي، ځکه نو دده

کسانو دامشوره ورکړې وه چې ما ته ووایي چې هغه سړی باید بیرته واستوې ، خونور زیات څه یې به دغه برخه کې ونه ویل. او زیاته هڅه یې داوه چې ددغه سړي په اړه هرڅه له یاده وباسي.اوده ددغه سړي لپاره د خانګړو مراسمو دنیولوخبره هم ونه کړه.

موږ دآرام کولو لپاره لکه چې هیله مو وه په دغه ارام ما ښام کې ځاي پرځای شو.خو امیربیا هیله من و د بلیارد زده کړې ته دوام ورکړي، ځکه یې ما ته د (۹) بجو په شاوخوا کې احوال راولیږه چې زما یو ما موربايد له ده سره دده د زده کړې په برخه کې مرسته وکړي.ما خپل دری تنه چې په دغه برخه کې یې پوره مهارت درلود په ګوته او له ده سره مې وګمارل، له هغو سره یې د شپې ترناوخته پورې په خوند خوند لوبې ترسره کړې. په هستنګ هاوس کې دبلیارد یومیزو، دوی ما ته وویل چې امیرله دغې لوبې سره ځانګړې مینه موندلې، دی په کابل کې همداسې یومیزلري خو تردغه وخته دې پردې نه پوهیده چې پرهغه باندې دغه لوبه په څه ډول ترسره کیږي.

زما له یاده ووته چې زه باید نن دامیردځاني عاید په برخه کې یوڅه ولیکم،دی وایی چې دده اروابناد پلاربه ده ته په کال کې (۱۸۰ ) زره روپۍ چې (۱۳۰۰۰ ) پونده کیدې ورکولې،ده دغه شمیرله هغه وخته چې پرواک شوی هم دی نه دې زیاتي کړې، دی وایې چې ده تل دغه مبلغ دده دځاني سمبالتیا لپاره کارولې دي،خو زه شکمن یم چې داسې به وي په تیره چې که دی دیوې اوږدې مودې لپاره په کلکته پاتې شي ؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## دو شنبه د ۱۹۰۷ کال دفبروری (۴)

له نني بوخت سهاره وروسته چې اميرله سوداګرواو نوروخلکو سره کتنې درلودې او په زيات شميرسره راغلي وو چې هغوی عاليجناب وويني ، اميرپه پوره (۲)بجو ددې لپاره تيارشو چې له هستګ هاوس څخه ديوڅه نورشاپينګ لپاره وخوځيږو. ده موټرونو ته په (۸) بجو قومانده ورکړې وه خوپه انتظارانتظارخبره تر (۲) بجوپورې ورسيده.
ما ميجربرد له هغه سره واستاوه اوهغه راته وويل چې اميرپوره درې ساعته د پوڅ او سمندري څواکونوپه مغازوکې تيرکړل.هغه غوښتل چې نور دکانونه هم وګوري خويوځل يې هلته په يوه مغازه کې خورا زياته سوداوکړه چې په هغې کې د بليارد دوه ميزونه هم ول. په کلکته کې سوداګرپه دغه خبره چې دي ټول څه دپوځی اوسمندري څواکونو له مغازوڅخه پيري يوڅه ځوريدلي وو، خواميرويل چې ده بايد دا کارکړی وای ځکه چې هرڅه دلته موندل کيږي اودې ته اړتيا نه لري چې هلته ولاړشي. زه ترمازديګره په دغه شاپينګ کې ورسره نه وم خو شاپينګ بشپړشواو په بري سره استوګنځي ته را ستون شول.
نن ما ښام موږ کومه ځانګړې وعده نه درلوده،خودماښامنی له خوړو وروسته اميرهيله وکړه چې منتو فتی ته يوڅل بيا ولاړشي. موږ لومړی دسوک وهلودلوبې ننداري ته ولاړو،هغه چې دپوځ دسيمي پا ينل لوبولړی هلته روانه وه،اميرله دغې لوبی سره د زړه له کومي ليوالتيا وښوده او ډيره يې خوښه شوه، دلوبی په وروستی سيالی کې يولوبغاړی داسې راولويد چې ددوو شيبو لپاره نه شو پورته کيدای.داميردغه فضا خوښه نه شوه او ماته يې وويل چې دی فکر کوي سوک وهل يوه سخته خوخوشالوونکې لوبه ده. خو ده نه غوښتل چې هغه بيا وګوري.
موږ دپوځي ورزشي لوبوسياليو ته ورغلو اوترهغو چې ننداره پای ته ورسيده هلته پاتې شوو. د ما نچسترډک او دوچې هم هلته وواميرپه ټينګارسره له دوچي غوښتنه وکړه چې په څنګ کې يې کيني،هغه يې په خپل موټرکې له ځان سره کړه، زما داندېښنې په خاطريی ما ته وويل چې ده ته دک دخپل هوټل په کوټه کې دچاي ست کړی دی. خوارکي دک نوره چاره نه درلوده ځکه نو دګرند هوټل پرلور روان شو.
کلچې ، کيک او نورټول يی په هندي ډول سره تيارکړل ځکه نو موږ هم ورته کيناستو، دک او دوچي دامير زړه ته ورنژدې ښوک وو، نن شپه هغه په تما مه معنا په شاعری ډک و، او موږ ته يی هم په کاپی
شوي ښه د فارسي يوشمير کلاسيک شعرونه راکړل، داسې چې هغو په افغاني موسيقی سره په پيانو کې هم ديوې افغاني سندرې ښه غوره کړې وه.
په دوو بجو زه پردې برياليی شوم چې دی دکورپرلوروخوځوم ،سره له دې دک همدا ټينګارکاوه چې دی غواړي دفرانسوي معما وو يوڅه چې هم ليکل شوي وو او هم رسم شوي هم پرموږ باندې وګوري . سره له دې چې د ويلو اړتيا يې نه وه خوامير بيرته کيناست او د د يک جوړکړې شيان يې په بيلابيلوعربي معما وو کې چې هراړخيز ورته والی يی سره درلود ورته په ګوته کړل. عربی يې د زمان په ترڅ کې موږ ته دفرانسوي په اندول دحيرانتيا وړڅه وو، خواميرته يې زياتره سمبولونه او معماوې ترفرانسوي هغوجالب نه وو. او وخت له دريو ورهغه خوا و چې ما اميرپرخپل استوګنځي باندې په داسې حال کې وسپاره چې دننی ورځې خوښی يې يادولې.هغه ټيلي وه چې له ديک سره به د غرمنی لپاره ما رګيريتا ته ځي. دبيګانيو سرګرميو له جوړښت او اډانې څخه ما ته په ډاګه شوه لکه چې اميردوچيس ته وويلی چې دی له حده زيات دهغو مهربانيومننداوی دی چې دده دکتنې پرمهال دهند دحکومت په تيره بيا د عاليجناب ويسرای له خوا دده لپاره برابرې شوې دي.
نن سهار امير هوډ وکړ چې موږ بايد ددريونوروشپولپاره د (۵) نيټې پرځای تر(۸) نيټې پورې په کلکته کې پاتې شو، ده پردې هم بنديزولګاوه چې سهاګپورته د پړانګانو دښکارلپاره ولاړشي.

## سه شنبه د ۱۹۰۷ کال دفبروری (۵)

موږ نن پردې ونه توانيدوچې کورته تر (۴) بجو پورې را وګرزو،اميرهيله درلوده چې تر (۸) بجو پورې دباندې پاتې شي. ځکه هغه غوښتل چې بيا د شاپينګ لپاره بازارته ولاړشي. ما هغه له ميجربرد سره واستاوه، برد ددې لپاره ښه واو د ورځې ښه تيريدو هيله من و، اميرهم زرحرکت وکړ، کله يې چې موټرحرکت کاوه ، ده وويل چې دی غواړي د ما نچستر دک اودوچيس (شهزاده او شهزادګی ) له ځان سره واخلی ،خو ده بيا داهم وويل چې دده لپاره به په لږ وخت کې دهغو رابلل ګران وي نو ځکه يې برد ته دنده ورکړه او هغه يې ګرنډ هوټل ته دمعلوماتو په خاطرواستاوه.
دا کاربې ګټې و، پردې چې دهغوی له بيګاني اکره داسې ښکاريده چې د دوی لپاره به ګرانه وي چې تر (۱۱:۳۰ ) بجودمخه دې له عاليجناب اميرسره ميلاو شي. په (۱۱:۳۰ ) بجو اميرګرونډ هوټل ته ورسيد،اوږده کتنه يې درلوده غرمنی يې هم هلته شوه او تر (۳:۳۰ ) پورې هلته وځنډيد، له هغه وروسته بيا ميجر برد دی را واخيست او مخامخ يې پوځي او سمندري مغازو ته دپيرودوپه خاطر ورساوه.
ماسپښين ناوخته ما له اميره پيغام ترلاسه کړ چې په هغه کې يې له ما هيله کړې وه چې دی بايد صنعتي نندارتون ته بوځم. داد هندي توليداتو اوفابريکو يونندارتون و چې په سياسي موخه دهغوی ټولو لپاره چې حکومت ته يې خپله وفاداري څرګنده کړې وه اوهغوی چې دلفټننټ ګورنرترلارښوونې لاندې په خورا بې غرضه چا رو باندې بوخت وو جوړشوی و.ما کله هم داغوره نه بلله چې داسې ځايونوته اميربوځم . خوسراندريو له څو ورځوراپه ديخوا پردغه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ

ټکي ټینګارکاوه چې یوځه باید وکړم ،په ربښتیا هم که چیرې امیرله دغه ځایه کتنه نه وای کړی نودنیرو زیاتوجوړونکو به ویل چې ددغه کارد مخنیوي لامل موږ شو. همداوه چې ماعالیجناب امیرسره له دې چې هلته ستونزې وې هغه ځای ته بوت او خپلې ښې هیلې یې څرګندې کړې.
ما پرسراندریوفریسربانډي غږ وکړ چې له موږ سره دموټرپه سپرلی د پوځ او سمندري ځواکونو مغازو ته ولاړشي چیرې چې موږ وکولای شول امیراوس هم په سودا باندې په خورا تاوده حال کې ومومو. له هغه ځایه موږ د ننداړتون پرلورحرکت وکړاوهلته په داسې حال کې ورسیدو چې د افغان ملي سرود (سندرې ) غږ نری نري په بیل ډول سره د سودیشي ډلې له خوا غږول کیده .سیمه ټوله په بنګالیانوډکه وه او هڅه یې کوله چې را نږدې شي،خو سختي وه ، ننداړتو ن له هرپلوه په ښکلي توګه خپله رڼایي په دغه شپه کې
درلوده. موږ هلته یوساعت پاتې شوو، له هغه وروسته موږ په بیره استوګنځي ته ولاړواوهلته مودمابنامني لپاره زر زرکالي واغوستل.
موږ نن شپه خپله ما ښامنې په ځانې توګه په ګورمنټ هاوس کې کوله ، خکه نو زه په خپل وخت دامیررووانولوته ور ورسیدم.موږ لکه دنورو وختو په شان دخپل حرکت تا بیا وکړه اوماهم غوښتل چې په خپل وخت باید هلته یم، دده یوه ماموریوځه ده ته ونیول چې هغه باید وګوري، دا په خپله دده هغه عکسونه وو چې ده ته د عکاس له خوا راوړل شوي وو، دابايد کتل شوی وای اوغوراوی په کې شوی وای . اوغوراوی هم باید په یوه پارسل کی، یوه افغان چاروکي به دا کاغذ نیوه،عکس به دوی په ډیراحتیاط سره داسې لکه چې یوځه ټایپ کوي ، هغه به امیرپه خپله په نصواري کاغذ باندې اینبود. چې دغو ټولو وخت غوښت، ددې اړتیا نشته چې خبره سره اوږده کړو خو موږ یو ځل بیا ګورمنټ هاوس ته ناوخته ورسیدو.
عالیجناب ویسرای امیرته دانګردمنځ په زینوکي هرکلی ووایه او دننه یې بدرګه کړ،لارد اومیرمن منټو هغه مرمرین تالارته لاربښونه کړ، د مانۍ یوه برخه دبال روم په ګډون یې ور وښوده. داغیزنا کو او ځورونکو پوښتنو په لړکي چې امیرله میرمن منټوڅخه وکړې یوه داوه ،چې دې ولې ده ته اجازه ورنه کړه چې له بال څخه کتنه وکړي. هغه چې دلیدو لپاره یې زیاته لیوالتیا وه، له بله پلوه داهم روښانه وه چې څنګه له حکومتي بال څخه د جمعې په شپه هغه هم دده د بیرته تګ په ورځ کتنه کیږي.
اغلې منټو یوځل دمخه هم امیرته بلنه ورکړې وه چې د جمعې په شپه به دا ده ته بال ورښیې چې امیرهم په خوشالی سره دابلنه منلې وه.
عالیجناب امیرله میرمن منټو سره د ما ښامنې په اوږدوکې ښه چټ او خبرې اترې درلودې،کله چې ما ښامني پای ته ورسیده،نو بیا له لارد منټو سره یوځای د سوک وهلو وروستی سیالي ته چې په منتوفیتی کې وه ولاړ. وایم چې داخوروښانه اوڅرګنده خبره اوده دنده وه چې دهغه عالیجناب په غیاب کې دی له میرمنو سره پاتې کیده اوله هغوی سره به یې لیدل. د ما ښامني په ترڅ کې ما له ده ژمنه ترلاسه کړه چې له (۱۰:۴۵ ) بجووروسته به خبره پای ته رسوي او بیا به ددې لپاره ما مورکیړې ځو پرهغو ټولوعکسونوباندې لاسلیکونه وکړي هغه چې ده د ځان د ډالی په توګه د میرمن منټواودهغې د لورانو لپاره راوړي وو. له هغه وروسته اغلې له امیرڅخه هیله وکړه چې دیوځو شیبو لپاره پیانووغږوي،هغې ته کیناست اودهغې په ترڅ کې یې بیلابیلې خوندورې افغاني سندرې زمزمه کړې.
چهارشنبه د ۱۹۰۷ کال دفبروری(۶)
امیرباید په اتوبجوحرکت کړی وای ، میجربرد اوموټرونه په ټاکلي ساعت تیاروو، خو هغه په لسوبجوحرکت وکړ، زه ولاړم چې دهغه پوښتنه وکړم او هم دځنډ پرلامل ځان پوه کړم ،هغه له سوداګرو سره په خبرو اتروباندې بوخت و،استوګنځی دکوټو په فرنیچر، دتودو اوبو پرقوطیو،دتشنابو په سامانو او دکور فرش کولو پرشیانوباندې ډک و ، دباندې چمن هم دسامانو اینبودوپه پیټیواوکارتنوباندې ډک شوی و، زما زړه ته ورسیده، ددې لپاره چې دا سامانونه پیښورته ورسیږي دهغو لپاره دکالیو یوځانګړی اورګاډی په کاردی.
دیوولسو په شاوخواکي امیرخپلې خولی ،لاس ماغوګان ،موټرې سترګې ،داوبوبوتلونه اوزموږ ټول هغه اړین څیزونه سره راغونډ کړل اوهم یې وویل مخکې تردې چې موږ په خپل حرکت پیل وکړو باید یوڅه خواړه خو وخورو، ځکه نو موږ ټول په خوړنځي کې وځنډول شوو. موږد حرکت پردغه مهال یوه اوږده اورنګارنګ سهارني کوله چې دنویو عکسونو یوه بسته چې د ( بورني اینډ شیپرډ) دیوه کس له خوا اخیستل شوي وو راورسیده.
له یوځو ورو لاربنونو وروسته امیر وغوښتل چې له دغو څخه یوپورتریټ میرمن ایلین الیوت او بل میرمن منټواو نورو ته باید ورسول شي او دا وخت پوره (۲) بجې وې چې موږ ایله خپل هدف ته ورسیدو.
سهارمهال افغان استازی راغی، او په عاجزی سره یې دا پخوله چې عالیجناب امیرغوارې دهغه استوګنځي ته نن شپه له خپلو ملګروسره د مابنامنی په جوړولو سره درنښت وبښي . (امیراوونی مخکې داژمنه کړې وه چې یوڅه به کوي ) امیرله هغه سره ډیربنه چلند وکړ او ویی ویل چې کیدای شي ورشي. دواړه پوښتنه او ځواب په نیغه او روښانه توګه دده له خوا ځواب نه شول خو کوم ځوا ب چې ده ترلاسه کړهغه هم دامیرد یوه مامورله لارې و. که څه هم استازی ده ته مخامخ نږدې ولاړو. دالومړی ځل و چې له ډیرو شپوروسته ما دده استازي ولید.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

موږ لومړی د برن شرکت (Burn&Co) یا فابریکي ته ولاړو چي دوی زیاتره داوسپني کارونه کول او امیر هم له هغو سره ترټولو زیاته معامله کړې وه. موږ دکارخای سرته بوتلل شوو، امیربیلابیلو شیانو ته په ژوره توګه ځیرو، ددغه جوړښت اړوند ښاغلی هالیدی څوک چي له پخوا هم په کابل کي واوس هم بیا په مارچ کي کابل ته دنورو کارو ترسره کولو په موخه روان و معلومات ورکړل شول. امیرپه ځانګړي توګه ددې لپاره هیله من و چي دخپلو خښتوجوړولو سستم نوی او سموني په کي رامنځ ته کړي. ده تل له ما غوښتنه کوله چي دده لپاره یوه درنه بټۍ (Bull'Kiln)واخلي او هغه دده کسا نو ته ور وښودل شي چي په څه ډول کارول کیږي.

ما له معلوماتو وروسته هغه ته وویل چي زه هم تربرن شرکت زیات څه نه شم کولای،هغوی ده ته وویل چي کولای شي ده ته بټۍ په (۱۰۰۰) روپۍ او بواروپایي کس چي هغه وکاروي دیوې دورې لپاره د میاشتي په (۵۰۰) روپۍ ونیسي خو امیر وویل چي (نه ، زه نه غواړم چي دداسي څیزلپاره میاشتنۍ تنخوا ورکړم. زه نه غواړم چي یوکس په دایمي توګه په داسي دنده وګمارم ، زه غواړم چي زماکسان و روزي،هغوی باید خښتي جوړې کړي،ځکه زه ددغه کارلپاره ټولې (۴۰۰۰) روپۍ وړاندیزکوم. ما ته یوڅوک راکړئ چي دغه کارترسره کړي داچي دا په یوه اووني کي ترسره کوي او که په یوه کال کي ) په دغه خبره جوړجاړی وشواو امیرڅلور زره روپۍ هغوی ته ورکړې او امریې وکړچي نورڅه یې په ګرنټي دقرارداد له مخي پرمخ بوځي.

وخت د ۴: ۳۰ بجو په شاوخواکي وچي موږ له اوږدې مودې وعدې وروسته د فارن افیس (وزارت خارجه) لیدو ته ورغلو. امیردغه جوړښت په هراړخیزه توګه په پوره لیوالتیا سره نه ولیدلی،دی تردیره حده دزیاتی سرګرمي په فکرکي نه و،خو ما ورته وویل چي دا به ډیره ښه وي چي ته یوازې دا مانۍ وګورې او دغه میزونه وګورئ چي ټولي ښي او بدې پیښي او توطیې چي له یوې بلې سره تړلې دي دلته خوندي دي، داخبره دده لپاره یوه په زړه پورې ایدیا شوه اوزموږ کتنه هم روانه وه.

د اعلیحضرت له رسیدو سره سم سر لیوس دانی(Sir Louis Dane) هغه ته هرکلی ووایه ، او بیا یي له ژمني سره سم خپله او دیوشمیرنوروسکرترانواوکاتبانو کوټي ور وښودې. سرلویس اوامیر دواړو د دغي مانۍ اوجوړښت د کړو اوګناوو په اړه ټوکي ټکالي سره وکړې .موږ یو ه دوې هغه کوټي هم ولیدې هغه چي په یوځي دفترپورې اړوندې وې اوهم موهلته د لارد کیچنیر دفترولید.

ماسپښین یوتړی ما سپښین وله فارن افس څخه له راوتو سره سم امیرزما وړاندیز ته هرکلی ووایه هغه چي ما وویل چي دچا ي څښلو په لامل باید چنتښ کفي ( Café Chantant)ته چي په منتوفتي کي وه ولاړشو،موږهلته لومړی هغه مغازه ولیده هغه چي دمیرمن کولین له خوا لاربښونه کیده اودناڅکو کاریې کاوه، امیر له هغو څخه یوزیات شمیروپیرودي اوموږ ته یي هم وویل چي باید یوشمیروپیرو. وسله وال اوموږ دناڅکوله یوزیات شمیربکسونوسره په فتی کي روان وو ، هرڅیرې به چي امیرکوم ما شوم لیده هغه ته به یي ورډالی کولې. په هغي کپې (کفي) کي چي هغه د میرمن (الین ) اونورو میرمنو کارکونکوله خوايې چارې ترسره کیدې.

امیردهرڅه دپیرودو په کارکي په زیات سخاوت باندې ټینګارکاوه او په دې نظروچي هرڅه دده لپاره اړین دي اوباید وپیرودل شي دا که چای وي، بوره وي اوکه نورڅه،خوهرتوکی به په یوځانګړي بسته کي وي،مارین سترګی په ۴ پونده وي ، ده بیا د یو لړسپکو خوړو فرمایش هم دهغو لمونځ کونکو لپاره ورکړهغوی چي د ستیج په شا کي ول.

امیر خورا سره هیجاني اوخوشاله و کله چي ما هغه ته وویل چي میرمن (الین) دده له پیرودنی څخه خورا اغیزمنه شوې،هغي په دغه اړه یوه په زړه پورې وینا هم ورکړې اوپه هغي کي یي دا یاده کړې چي دده (امیر) په ملتیا دوی دهغي خیریه ټولني لپاره چي په فیتی کي یي پرانیستې وه په زړه پورې مرسته ترلاسه کړه. هغه وویل چي دده معامله وه خودهغي بیا خدمت و، هغه هم دخدای په لاره کي.ددې لپاره چي دهغي ذهنی تسل شوی وي ، نو یی په دغه ټکي باندې ټینګارکاوه چي دچا یواو ایسکرمو یوبل پراوخوراک هم په کټ مټ شرایطو سره راوغواړي. دی ددغه ټکی تراغیزلاندې راغلی و چي څنګه انګریزي میرمنو دکارکونکو په توګه دهرې ورځې په ترڅ کي هغه هم د خیریه ټولني لپاره په دومره لیوالتیا سره کارکوي. میرمن الین دامیراوما په خاطرد چا یود یوه میزجوړولود ژمني لپاره سبا ماښام ته تیاری وښود. په هرډول دا هرڅه دقناعت وړ وواوموږ له هغه ځایه حرکت راوکړ، زه ګرد سره هیله من وم چي نور به امیرکورته رسوم او نیغ به کورته ځو، خو له دې نه وم خبر چي امیربه دګلانو دنندارتون خیمي ته هم ځي.دلته له ما سره بخت یاري ونه کړه هماغه وه چي په ښاغلی ( چترجي) چي یوښه ګلپال او نبات پوه و ورمخه شوو،امیر له هغه سره دښایسته وخت لپاره په عمومي توګه دنباتاتو دکرلواودځانګړونباتاتو د ودې په برخه کي ځانګړې پوښتني اوخبرې وکړې.

دا وخت له اتو بجوڅخه هم تیروچي ما وکولای شول امیرنور دکورپرلورروان کړم. ما به دی هلته پرېښي وای خو هغه غوښتل چي دخپل استازي ما ښامني ته ولاړشي ،هغه وویل چي: « په دې باره کي فکرمه کوه ځکه چي دا ډیرمهم ټکی نه دي اوزه دا ډیره مهمه بوختیا نه بولم»

دلاړې په اوږدوکي ما وغوښتل چي له کلکتي دبیرته تګ په اړه هم دیوې چا رې خبره وکړم .ده ما ته پخوا داخبره کړې وه چي دي به په دغه اړه سبا ما ته خپله خبره وکړي. ما فکرکاوه چي له دغي خبرې څخه به دده موخه داوه چي دی خپل تګ (۱۰) نیټي ته کړي. خو ما نن له فارن افیس څخه دا جدي پیغام ترلاسه کړي و چي امیرباید په (۹)



افغان جرمن آنلاین په درنښت ناسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

نیټه له کلکتي څخه حرکت وکړي.زه پوهیدم چي دا به زما لپاره مرګوني خبره وي که دی وواېي چي په (۱۰) ځم . ځکه نو زما لپاره دا اړینه وه چي پرته له اصلي دلیل ویلو دی پردې قانع کړم چي باید پر(۹) نیټه باندي حرکت وکړو. ما وویل چي موږ باید دبمبی د ګورنرلپاره نورسرخوری نه شوچي خپل پروګرام یی له (۱۱) نیټي څخه (۱۲ ) ته واړاوه. ددي په څنګ کي لویه خبره داوه چي سمندری نندارې او پریټ خوباید په هیڅ ډول ونه ځنډول شي. همدارنګه د سکرودکان په اړه چي موږغوښتل هغه باید دخپل سفرپه اوږدوکي وګوري څه وشول ؟ داسي ښکاریده چي هغوی د یکشنبې په ورځ کارنه کوي. ده وویل چي ده په رښتیاهم غوښتل چي ترلسمي نیټي پوري پاتي شي اوکیدای شي هغه په سهارکي خپل سفرلکه چي زما هیله وه پیل کړي. دسکرو په باره کي، ما فکروکړچي دابه ښه وي چي په دغه برخه کي یوڅوکارپوهان ورته راوغواړم څوپه دغه اړه خبرې ورسره وکړي ، دا هم سمه وه خو موږ بمبي ته دخپل رسیدنګ په نیټه کي هیڅ ډول بدلون نه غوښت.ځکه نو زما ذهن ته راغله چي ولي موږ خپل سفر دشنبي په شپه د شنبی د سهار پرځای نه پیل کوو. ځکه چي دابه دیک شنبي ترسهاره هم په زړه پورې وخت وي.

ما فکرنه کاوه چي امیربه زما پردغو دلایلو باندې باوراوقناعت وکړي. خو هغه ولیده چي ما د زړه له کومي له ده غوښتل چي په (۹) بجوباید حرکت وکړو. ځکه خوهغه هم وویل :« ښه ، ستا په خاطرزه سلایم چي د شنبی په شپه حرکت وکړو، دشنبي په شپه له لمانځه وروسته»

زه هیله من شوم چي نوره به ستونزه پای ته رسیدلي وي. خو دې ته اندیښمن وم اوپه فکرکي راتله چي دده لپاره ددې اړتیاڅه وه چي له دغه ټکي سره یي ضدیت ښود.

په همدغه وخت کي موږاستوګنځي ته ورسیدو،امیرولاړچي خپل کالي بدل کړي، له ما یی هیله وکړه چي له ده سره دده د استازي ما ښامنی ته ولاړشم. خو زمایی له دغي میلمستیا سره څه؟ زه له هغي میلمستیا څخه وتښتیدم. هغه وویل چي دی خپله هم غواړي چي له ماښامني څخه زر را ووځي اوځان به منتو فتی ته راورسوي. بیا به له ماسره هلته وګوري.

ده د لسو بجو په شاوخوا کي دخپل استازي کورته حرکت وکړ، داځای دکلکتي په یوه کوڅه کي و. استازي لکه چي ما واوریدل امیرته یوزیات شمیرسوغاتونه نن شپه ورکړل اوهمداسي یي دخپل مشرپه ویاړدغي غونډې ته یوزیات شمیراروپایي اوځایي نراوښځي سندرغاړې هم رابللي وو(*) .

زه په داسي حال کي چي خبره ترنیمه شپه اوښتي وه ده ته په منتوفتی کي انتظاروم خو څوک را معلوم نه شول. ما واوریدل چي امیردخپل استازي په کورکي دهغه ستاینه وکړه ،خودهغه د دسوغاتوله کتلويي ډېره وکړه، پوازې یي ما ښامني هغه چي په یوولسو بجو تیاره شوې وه وخوړه. له دوولسو بجو یوڅه تیرې وي چي له هغه ځایه راووت ، هغه نندارې او سرګرمۍ چي دده دهرکلي او درناوي په ویاړجوړې شوي وي هغه یي هم ونه لیدې . دنورو بیلابیلو پیښو په ډله کي نن زه پردې بریالی شوم چي په امیرداومنم څو دکلکتي د مسلمانانوسره که څه هم چي دغه کارته یي ډېره لیوالتیا نه وه ایل اوغیل شي او دهغوی احساسات هغه چي امیرډېرپه پام کي نه وونیولي،دهغوی جومات ته په تللو سره درک کړي. ددې لپاره چي په دغه برخه کي یي خپله نه لیوالتیا لرې کړې وي ، ما امیرته وړاندیزوکړچي دا به ترټو لوښه خبره وي چي که ته دکلکتي دمسلمانانو دټولني مشران ( هغوی چي زه یي د کلکتي دنفوسو یوه وړه او بې اهمیته برخه بولم ) راوغواړې اوله هغوی سره دلته د راتلونکي جمعي لمونځ په ګډه وکړې. امیر داخبره په خوشالی سره ومنله او اجازه یي وکړه چي دی به دهغوی له سلو تنو سره دګډ لمانځه په کولو کي برخه واخلي او له هغه وروسته به له دوی سره خبرې هم ولري. دا ډېره ښه خبره وه ، او دا زما دنده وه چي باید دهغوی دبلني لارې چا رې برابرې کړم.

---------------------------------------------------------------

(*)په کلکته کي د امیر حبیب الله خان استازي ، محمد اسماعیل خان (غالبآ هراتی سردار ) و ، که څه هم په دغه اثرکي یي نوم نه دی راغلی خو، دهغه لیک له مخي چي سردارنصرالله خان په ۱۹۰۷ کال کي وراستولی هلته یي نوم شته ، په دغه لیک نصرالله ورته لیکلي چي الله جویا نومي طبیب باید زر تر زره کابل ته د میډیکل کالج د جوړولو په خاطر را ولیږي. الله جویا چي په کوم مطلب راغلی و، هغه میډیکل کالج جوړ نه کړ، دهغه پرځای په دربارکي په نورو طبي بوختتاوو باندې بوخت شو ؟

پاتي لري



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ